# ماشومانو مقدس کتاب

وړاندې کونکے

# ړومبے ایسټر



لیکونکے: Edward Hughes
خیال: Janie Forest
Alastair Paterson
خوښونکے: Lyn Doerksen
ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries
مددگار: Bible for Children
www.M1914.org

BFC
PO Box 3
Winnipeg, MB R3C 2G1
Canada

©2020 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نهٔ شئ.

دا ښځه په يو خوشې
بيابان کښې په يو غرۀ
باندې ولاړه وه، هغې يو
ويراونکے منظر وليدو.
د هغې زوئ مړ کيدو.
د مقدسه مور مريم وه.
او دا په هغه ځائ
کښې وه چې کوم
ځائ عيسی په
سولئ کړے
شوے وو.





دا هر څهٔ ولې وشول؟
عیسی خپل ژوند ولې په
داسې افسوس ناکه طریقه
ورکړو؟ او خدایٔ
ولې خپل زویٔ
ته په سولئ ختلو
اجازت ورکوې؟
ولې عیسی نه څهٔ غلطی
شوې وه چې هغه څوک
دے؟ ولې خدایٔ ناکامه
شوے وو څهٔ؟



نه خدائ نۀ وو ناکامه شوے.
او نۀ عیسی نه څۀ غلطی شوې
وه. عیسی ته همیشه دا پته وه
چې خلق به هغه ووژنی. تر
دې پورې چې کله عیسی
ماشوم هم وو، نو یو بوډا سړی
چې نوم یې شمعون دے هغه
مریم ته وئیلی وو.چې ستا ځان
به توره باندې زخمې شی.



د عیسی د مرګ څو ورځې
مخکښې، یوه ښځه راغله
او هغې د هغهٔ په پښو باندې
قیمتی عطر ولګول. نو شاګردانو
پرې شکایت وکړو چې هغه پیسې ضائع کوی. هغه
ووئیل ښه کار یې کړے دے، عیسی ووئیل، څهٔ.

د هغې نه وروستو يهوده چې د هغۀ د دولسو شاګردانو نه يو وو. هغه عداره هغۀ په ديرشو سپينو زرو سيکو باندې عيسی مشر امام ته حواله کړو.





او عیسی د یهودیانو د فسحی اختر
آخری ډوډۍ د خپلو شاګردانو سره
وخوړه. هغه هغوئ ته د خدائ هغه
ټولې وعدې او خبرې وکړې، کومو
سره چې هغۀ مینه کوله.نو بیا عیسی
روټۍ او پیالۍ وخستله او هغوئ سره
تقسیم کړه.او دا دې خبرې
یادګیرانه ده چې
د عیسی بدن او
وینه د ګناهونو
معاف کول د
پاره توې شوه.

عیسی خپلو ملګرو ته وئیلی وو چې ما سره به دوکه کیږی
پطرس ووئیل چې ټول به هغه پریږدی خو زۀ یې نۀ
پریږدم. خو عیسی ووئیل چې د چرګ د بانګ نه مخکښې
به تۀ درې ځلې زما نه انکار وکړې.





عیسی ورسته د شپې د
ګیتسمین په باغ کښې
وکړه. او د هغهٔ ټول
شاګردان اودهٔ
شول.عیسی دعا وکړه
چې اے پلاره،...کهٔ دا
ممکنه وې نو دا پیالئ
زما نه لرې کړه، خو
زما رضا نه بلکې ستا
رضا دې پوره شی.

عیسی ورسته د شپې د
ګیتسمین په باغ کښې
وکړه. او د هغهٔ ټول
شاګردان اودهٔ
شول.عیسی دعا وکړه
چې اے پلاره،...کهٔ دا
ممکنه وې نو دا پیالئ
زما نه لرې کړه، خو
زما رضا نه بلکې ستا
رضا دې پوره شی.



هغه لوئ ګڼې عیسی د مشر امام کور ته بوتلو. هلته د یهودیانو مشر دا وئیل چې عیسی په سولۍ کړئ. هم په دغه ځائ کښې پطرس هم د هغهٔ نوکران سره ولاړ وو. او اور بلیدو.



دريِ ځله خلقو پطرس ته وکتل او ويِ وئيل، چيِ تهٔ عيسی
سره ويِ. نو پطرس دريِ ځله انکار وکړو، چيِ څنګه
عيسی فرمائيلی وو. او دا
خو له پريږده پطرس خو
پريِ لعنت هم ووئيلو او
قسم يې هم وخوړلو.



# ککړوں کړوں



نو بيا چرګ بانګ ووئيلو. دا
د پطرس دپاره د خدائ آواز
وو. هغه د عيسی هغه ټولې
ټولې خبرې رايادې کړې او
په چغو يې وژړل.



یهوده هم ډیر خفه شو. هغهٔ ته پته وه
چې عیسی خو بلکل بې ګنا دے او
هغهٔ هیڅ جرم نهٔ دے کړے. یهوده د
سپینو زرو هغه دیرش سیکی
کاهن ته واپس کول غوښتل خو
هغهٔ واپس وانهٔ خستلې.



یهوده هغه د سپینو زرو
سیکی هغه ته وغورزولی
او باهر لاړو... او ځان
یې پانسی کړو.



کاهن عیسی پلاطوس له راوستۀ.څوک
چې د روم بادشاه وو. پلاطوس ووئیل.
چې زۀ په دې سړی کښې هیڅ جرم
نۀ وینم. خو خلق دا چغې
وهی، چې هغه په سولۍ
کړئ، هغه په سولۍ کړئ.

کاهن عیسی پلاطوس له راوستهٔ.څوک
چې د روم بادشاه وو. پلاطوس ووئیل.
چې زهٔ په دې سړی کښې هیڅ جرم نهٔ
وینم. خو خلق دا چغې وهی، چې هغه
په سولئ کړئ، هغه په سولئ کړئ.





عیسی ته دا پته وه چې زهٔ به داسی مرم. هغهٔ ته پته وه چې
زهٔ د ګناګارانو د ګناهونو د معافئ د پاره خپل ژوند ورکوم،
دا د هغوئ د خاطره څوک چې په ما باندې یقین ساتی. د



عیسی سره دوه نور مجرمان هم
په سولئ کړے شول. یو په
عیسی ایمان راوړو او
آسمان ته لاړو. خو
هغه دویم کس
ایمان رانهٔ وړلو.

هغه په ځنګونونو شوو او د سخت
تکلیف نه پس عیسی ووئیل چې
پورا شوه او ساه یې ورکړه.
د هغهٔ شاګردانو هغه په
یو نوې قبر کښې
ښخ کړو.



نو بیا رومیانو په قبر
باندې مهر ولګولو، او
د هغې خفاظت یې
کولو. دا چې څوک دننه
یا بهر لاړ نهٔ شی.



کۀ دا د قيصۍ خاتمه وې نو دا
څومره د افسوس خبره ده. خو
خدائ يو ډير غجيبه کار
وکړو.عيسی مړ
پاتې نۀ شو.



او د هفتې په ړومبئ ورځ سحر
وختی د عیسی څۀ شاګردانو
ولیدل چې د قبر نه څۀ کاڼې
لری شوی دی. چې کله
هغوئ دننه وکتل نو
عیسی هلته نۀ وو.



یوه ښځه قبر ته ولاړه وه او ژاړل
یې.عیسی هغې ته څرګند شو. او هغه
ډیره په خوشحالئ شاګردانو له واپس
ورغله. او وی وئیل چې عیسی
ژوندے دے، عیسی د مړو نه
ژوند پورته شو.





او ډیر زر خپلو شاګردانو ته هم راڅرګند شو او هغوئ
ته یې خپل لاسونه وښودل چې په میخونو زخمی شوی
وو. دا ربښتیا دی، عیسی ژوندے وو. هغه پطرس هم
معاف کړو، او ټولو شاګردانو ته یې ووئیل چې ټولو ته
خبر ورکړئ. نو بیا هغه واپس آسمان ته وختلو چې کوم
نه هغه ړومبے کرسمس له راغلے وو.

# ړومبے ایسټر

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښ دا قیصئ

شته دے

متی26-28، لوقا22-24، یوحنا13-21

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ۔"
زبور 130:119

ختم شو

54

60

دا قیصۍ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر غلط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغۀ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولۍ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کۀ تۀ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تۀ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کۀ تۀ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زۀ ایمان لرم چې هم تۀ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲